مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني

۲۰۱۹/۰۵/۱۵

# نن سوله کوي

چي تباه کړي يې ملکونه دي نن سوله کوي
چي لګولي يې اورونه دي نن سوله کوي

د منبر سر ته دی کافر تسپې په لاس ختلی
چي يې سوځلي آذانونه دي نن سوله کوي

د شهيدانو په نامه يې جنډې ورپول
په وينو سره چي يې لاسونه دي نن سوله کوي

دلته قصاب هلته لېوه دی خدايه چيري به ځو
د يوه تيغ د بل غاښونه دي نن سوله کوي

ما يې لاسونه په دُعا وليدل ومي ژړل
چي زېږولي يې جنګونه دي نن سوله کوي

جامې بدلي، رنګ بدل، داني بدلي لري
له هر يوه سره دامونه دي نن سوله کوي

له پاسه اور پر مځکه اور وچ او لانده سوځوي
چي يې راوړي دوږخونه دي نن سوله کوي

چي مو تر څو وي جهاني پردی لمن نيولې
ورځ تر قيامته عبرتونه دي نن سوله کوي

.

د ۲۰۱۹ کال د مي د مياشتي دوولسمه ويرجينيا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ